مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۳/۱۰/۲۹

# سړی څه ووایی؟

موږ له وطنه لیری لوېدلو خلکو ته د افغانستان خبرونو د قبر د حالاتو شکل غوره کړی دی. هر څوک هر څه وایی. یو وایی خیراوخیریت دی. هر څه سم روان دي او هغه بل وایی وطن نه دی، سم دوږخ دی. خدای دي مسلمان په امان لري.

دا چي ځوان مطیع الله ویسا له ۲۵۱ ورځو بند ګاللو څخه وروسته، چي خدای خبر دی څه حالات به یې لیدلي وي، له زندان څخه خوشي سوی دی دا ډېر ښه خبر دی. مګر دا یو مطیع الله ویسا دی چي موږ به یې له بنده په خوشي کېدلو خوشالي کوو؟ په هغه وطن کي څونه نور ژورنالیستان او ځوانان تهدید سوي او د حکومت ښځينه او نارينه مخالفین او د پخواني رژیم کارکونکي په مرموز شکل وژل سوي او د بندیخانو شومه سوي نه دي؟

دا خو ښه خبره ده چي د حکومتي او شخصي ځمکو غاصب او د بېګناه انسانانو قاتل مولوي تره خېل بندي سوی او حساب کتاب ته بلل سوی دی. مګر په وطن کي دا یو تره خېل دی چي ځمکي یې غصب کړي او حساب کتاب ته بلل سوی دی؟ هلته په زرهاوو نور جنایتکاران سري سترګي نه ګرځي او حتی د الله ګل مجاهد په څېر معلوم الحال جنایتکاران او د خلکو د جایدادونو غاصبین به عزت او احترام وطن ته بلل سوي نه دي او په هوایی ډګر کي طالبانو تود هرکلی ورته ویلی نه دی؟

له هیواد څخه په لس ګونو اوحتی په سل ګونو زره ځوانان په تېښته کي نه دي؟ هغوی ځانونه د مرګ خولي ته ورکوي؛ هغوی د ایرانیانو او پاکستانیانو توهینونه او سپکاوی پر ځانونو باندي مني مګر له هیواده تښتي. ولي؟

زه ستاسي سر ډېر نه خوږوم. همدا نن مي له کندهار څخه د یوه ځوان پیغام ترلاسه کړی دی او غواړم ټکي په ټکي یې ستاسي سره شریک کړم او بیا نو قضاوت تاسي ته پر پردم. زه د دي ځوان نوم ځکه نه سم اخیستلای چي که یې نوم ولیکم نو ګواکي په لوی لاس یې د مرګ خولي ته ورکوم. دې ځوان د یوه فرهنګي او علمي کار د پیل کولو لپاره زما څخه ، د یوه سپین ږیري په حیث، مشوره غوښتي ده:

« السلام علیکم. استاد محترم جوړ په خیر. صحت دي ښه دی؟ خدای دي وکړي ټول کارونه په خیر وي او ته صحتمند یې. ( وروسته یې خپل ځان معرفی کړی دی؛ چي زه یې نوم نه یادوم) استاد محترم تاته خو بهتره معلومه ده چي په وطن په تېره بیا کندهار کي حالت داسي دی لکه سړی چي د زومبیانو( له قبرونو څخه د را پاڅېدلو مړو وحشتناکي صحني) فیلم ګوري. خلک په کورونو کی داسي پټ دي لکه د مرض څخه چي بیرېږي چي هسي نه دوی هم په اخته نه سي او د کندهار اوضاع کټ مټ همداسي ده. ځیني تعلیم یافته کورنی چي اوس هم په کندهار کي ژوند کوي بس له کوره تر کاره پوري ځي راځي. وطن ته داسي خلک راغلي دي چي سړی یې بیخي تصور نه سی کولای چي یو وخت به په دې ښار کي علامه حبیبي او علامه رشاد او نور مفکرین اوسېدلي وي. په هر صورت هغه خبري نوري دي او ډیري دي. استاد محترم له بیکاری او بی مضمونی څخه مي د دغه کتاب ( تصویر یې په ټلفون کي را لېږلی دی) ترجمي ته مخه کړې ده..... »

دې ځوان، چي زه یې طبعاً نه پېژنم، زما څخه د کتاب د ترجمه کولو په باره کي مشوره غوښتي وه او ما ورته ولیکل چي دا کتاب تر اوسه پوري په افغانستان کي ترجمه سوی نه دی او زه یقین لرم چي د ډیورند د کرښی په هاخوا به هم ترجمه سوی نه وي. کتاب ډېر ګټور دی او تاته دي خدای برکت په نصیب کړي.

د دې ځوان د لیک یوه برخه مي ځکه کټ مټ درته رانقل کړه چي تاسي په وطن کي د ځوانانو او په تېره بیا فرهنګیانو او تعلیم یافته کسانو د ژوند په باره کي تصور وکړای سی. اوس به نو سړی، د عمر توخي په اصطلاح، یوازي د قوش ټپي د کانال په خبرونو خوله خوږوي او تر قیامته به شخوند وربادي وهي.

پوره دوه کاله کېږي چي طالبان د کندهار کابل د مهمي لاري د جوړولو نغاری وهي. څه موده مخکی یې وویل چي پر هغه سړک باندي په شپږو برخو کي کار شروع دی. زما په څېر له هیواده لیري پراته خلک فکر کوي چي په دې


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ترتیب به ټول سړکونه جوړ سوي وي. ما پرون د خپل یوه ناروغ دوست سره، خدای تعالی دي صحت ورکړي، په ټلفون کي خبري کولې چي دوې ورځي مخکی له کابل څخه تر کندهار پوري په یوه شخصي او تکړه موټر کي په څه باندي ۱۲ ساعته کي رسېدلی وو. دا هغه سړک وو چي شخصي موټرونه په څلورساعته کي له کابل څخه کندهار ته رسېدل. زما دوست راته وویل چي په ټوله لار کي له لس هاوو ورانو سویو پلچکونو څخه یو هم نه وو ترمیم سوی.

ټول کارونه د مرچو له قراره واخلی. زه ګومان نه کوم چي له هیچا سره به داشک وي چي ما یا عمر توخی یا کوم بل افغان د وطن دښمنان وبولي. موږ هم د دې وطن بچیان یو او د نورو په څېر مو زړونه ورباندي خوږېږي. زه شخصاً له طالبانو سره هیڅ ډول شخصي عداوت او دښمني نه لرم او نه مي عمر او صحت د سیاست تقاضا کوي. د بل هر دردمن افغان په څېر مي د پخوا په شان زړه ورباندي خوږېږي او په غم یې غمجن یم.

ما چي د دعوت د دري میاشتنی خپروني د جنوري او مارچ په میاشتو کي د محترم ډاکټر صاحب محمدعثمان تره کي، مرکي او یو کتاب خبرو ته اشاره کړې وه اوس هم د هغې مرکي لوستلو ته خپل وطنداران را بولم. هغه ډېرو ښو واقعیتونو ته ډېره عالمانه او بېطرفانه ااشاره کړې ده په لوستلو او غور کولو ارزي. نور نوسړی څه ووایي؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ